343: اونیزه مجله
WEEKLY BOOKLET:343

د سلسلهٔ قادِرِیه رَضَوِیه عَطّارِیه د لسم پیر و مرشِد تذکره

# فیضانِ سَرِي سَقَطي رحمۃُ اللہِ علیہ

PASHTO




01 مونږ سنا په خاطر د شرابي زړه وینځلو
03 وِلادت او تعارُف
10 د ډیرښو کالو نه د نفس مخالفت
21 مُرید او جانشین ته نصیحت



پیشکش: (دعوتِ اسلامی)
المدینه العلمیه
Islamic Research Center

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی خَاتَمِ النَّبِیّٖن ط
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ط

# فیضانِ حضرت اِمامِ سَري سَقَطِي رَحْمَةُ اللهِ عَلَیْه

**دُعائے عطار:** یا الله پاکه! څوک چې دا رساله ”**فیضان حضرت امام سَري سَقَطِي** رَحْمَةُاللهِ عَلَیْه“ اولولي یا واوري، هغهٔ ته پهٔ خپله غلامۍ کښې او پهٔ دعوتِ اِسلامي کښې استقامت عطا کړې او د بزرګانِ دِین رَحْمَةُاللهِ عَلَیْهِم پهٔ سیرت باندې د تللو توفیق ورعطا کړې. او بے حسابه یې اوبخښې. اٰمِین بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د دُرُود شریف فضیلت

د الله پاک خوږ آخري نبي، مکي مَدَني مُحَمَّدِ عربي صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائیلے: د هغهٔ کَس د پاره وَیل یعني هلاکت دے د چا چې د قیامت پهٔ ورځ زما زیارت نصیب نه شي. حضرت بي بي عائشه صدیقه رَضِیَ اللهُ عَنْهَا عرض وکړو: یا رسولَ الله صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغهٔ څوک دے د چا چې به ستاسو زیارت نهٔ نصیب کیږي؟ ارشاد یې اوفرمائیلو: هغهٔ بخیل یعني کنجوس دے. عرض یې وکړو: بخیل څوک؟ اوئې فرمائیل: بخیل هغهٔ دے د چا پهٔ مخکښې چې زما نوم واخستے شي او هغهٔ پهٔ ما باندې دُرُود اونه لیږي. (افضل الصلوات علی سید السادات، ص: 45)

حشر کی تیرگی' سیاہی میں نور ہے' شمع پُر ضیا ہے دُرود
چھوڑیو مت دُرُود کو' کافی! راہِ جنّت کا رہ نما ہے دُرود
(دیوانِ کافی،)

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

## مونږ. ستا پۀ خاطر د شرابي زړۀ وينځلو

د سلسلۀ عالیه قادریه رضویه عطاریه یو عظیم بزرګ چرته تشریف وړلو چې پۀ لار کښې یې د نشې پۀ حالت کښې پۀ زمکه پروت یو ګس اولیدو چې د هغۀ د خُلې نه شراب بهیدل او پۀ دې حالت کښې هم د هغۀ د خُلې نه د **اللّٰه اللّٰه** آوازونه راتلل. هغوئي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه د **اللّٰه** پاک پۀ باره کښې عرض وکړو: یا **اللّٰه** پاکه! دا بنده پۀ داسې حالت کښې ستا ذِکر کوي چې ستا د شان لائق نه دي، بیا هغوئي اوبه راوغوښتلې او د هغۀ مخ یې وینځو او لاړلو. چې کله هغۀ ګس پۀ هوش کښې راغے نو خلقو هغۀ ته ووئیل چې د زمانې مشهور ولي اللّٰه حضرت سَري سَقَطِي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه تشریف راوړے وو. تۀ یې چې پۀ دې حالت کښې ولیدلې نو ستا مخ یې وینځو او لاړلو. هغۀ ډیر شرمنده شو او خپل ځان یې ملامته کولو: اے نفسه! ستا بربادي دې وي، چې تۀ د **اللّٰه** پاک او د هغۀ د وَلیانو نه هم حیا نه کوې نو د چا نه به یې کوې؟ بیا هغه شرمنده شو او د خپلو ګناهونو نه یې توبه کړه. حضرت سَري سَقَطِي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه چې کله د شپې اوده شو نو پۀ خوب کښې یې آواز واوریدو: اے سَري! تا زمونږ د رضا د پاره د هغه شرابي خُله وینځله نو مونږ ستا د پاره د هغۀ زړۀ وینځلے دے. سَري سَقَطِي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه چې کله سحر راپاځیدو نو د هغۀ سَړي پۀ باره کښې یې معلومات حاصل کړل او آخر یې هغه پۀ جومات کښې پۀ نمونځ کولو اولیدو. چې هغۀ کله د نمونځ نه فارغ شو نو دوئي ترینه پوښتنه وکړه: اے زما وروره! څنګه یې؟ هغۀ عرض وکړو: یا سیدي (یعنې اے زما سرداره)! تاسو زما د حال پوښتنه څله کوئ؟ حالانکې هغۀ کریم ذات **اللّٰه** پاک تاسو خبر کړي یئ چې هغۀ ستاسو پۀ وجه زما زړۀ وینځلو او زما حالت یې ښۀ کړو. هغوئي ترینه پوښتنه وکړه: تاسو ته چا ووئیل: جواب یې ورکړو: چا چې د خپل غیر نه زما زړۀ پاک کړو او پۀ ما باندې یې د خپلې عفوې او کرم او رضامندۍ باران وکړو. (الروض الفائق، ص245) د **اللّٰه** رَبُّ الْعِزَّت دې پۀ هغوئي باندې رَحمت وي او د

هغوئي پهٔ وسيله دې زمونږه بے حسابه بخښنه وشي. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صلی اللہ علیہ والہٖ وسلم

نگاہِ ولی میں وہ تاثیر دیکھی　　بدلتی ہزاروں کی تقدیر دیکھی

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! ❀❀❀ صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## ولادت او تعارف

اے د اولياؤ عاشقانو! د شرابي ژوندون بدلوونکے بزرگ، د سلسلهٔ عاليه قادريه رضويه عطاريه لسم پير او مُرشِد حضرت سَري بن مغلس سَقَطِي رحمۃ اللہ علیہ وو. د يو قول مطابق هغوئي پهٔ 155 هجرى کښې پهٔ بغداد شريف کښې دُنيا ته تشريف راوړلو. د هغوئي مبارک نوم سَري وو چې مطلب يې بهادر دے او د هغوئي کُنيت ابو الحسن دے. هغوئي به پهٔ شروع کښې "سقط (يعنې معمولي او واړه خيزونه)" خرخول. پهٔ دې مناسبت سره هغوئي ته "سَقَطِي" وئيلے کيږي. هغوئي د حضرت معروف کرخي رحمۃ اللہ علیہ مُريد او د حضرت جنيد بغدادي رحمۃ اللہ علیہ ماما او استاذ دے. (تذكرة الاولياء، 1/246)

## پهٔ ژوند کښې د بدلون وجه

حضرت سَري سَقَطِي رحمۃ اللہ علیہ به پهٔ شروع کښې د بغداد شريف پهٔ بازار کښې پهٔ دُکان کښې ناست وو او د پرچون کار به يې کولو، يوه ورځ خواجه حبيب راعي رحمۃ اللہ علیہ د هغوئي دُکان ته راغلو، هغوئي هغهٔ ته څهٔ خيزونه پيش کړل چې پهٔ فقيرانو يې تقسيم کړي، هغوئي اوفرمائيل: خَيَّرَاكَ اللّٰهُ يعنې **اللّٰه** پاک دې تاسو له د نيکئ توفيق درکړي، بس د هغه ورځې نه د دُنيا خيال د هغوئي د زړهٔ نه اُووتو. (شريف التواريخ،1/499)

## پهٔ شجرهٔ قادريه رضويه عطّاريه کښې ذِکرِ خير

امیرِ اهلِ سُنّت حضرت علامه مولانا محمد الياس عطّار قادري رضوي ضيائي

دامت برکاتہم العالیہ چې خپل هر مُريد او طالِب ته د لوستلو د پاره د کومي شجرې مبارکې د لوستلو اجازت عطا کړے دے، پۀ هغې کښې د حضرت سَري سَقَطِي رحمۃُاللہِ علیہ پۀ وسيلې سره داسې دُعا شوې ده:

*بَہرِ مَعْرُوف وسَری معروف دے بے خُود سَری*

پۀ دې شعر کښې د سلسلۀ عاليه قادريه رضويه عطّاريه د نهم او لسم پير و مُرشِد (يعنې حضرت معروف کَرخي او حضرت سَري سَقَطِي رحمۃُاللہِ علیہما) پۀ وسيله دُعا شوې ده.

## د دُعائيه شعر مفهوم

يا **الله** پاکه! د حضرت معروف کرخي رحمۃُاللہِ علیہ پۀ وسيله نيکي او خير راعطا کړې او د حضرت سَري سَقَطِي رحمۃُاللہِ علیہ پۀ وسيله ما د عاجزی او انکساری نمونه جوړه کړې. اٰمِين بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صلَّی اللہ علیہ والہٖ وسلَّم

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِيْب! صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

## د عربی شجره

اعلیٰ حضرت امام احمد رضا خان رحمۃُاللہِ علیہ د عربی یوه شجره مبارکه، د دُرُود شريف په صِيغه ليکلې ده، پۀ دې کښې د حضرت سَري سَقَطِي رحمۃُاللہِ علیہ ذِکرِ خير څۀ داسې کوي: "اَللّٰهُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلَيْهِ وَعَلَيْهِمْ وَعَلَى الْمَوْلَى الشَّيْخِ سَرِيِّ نِ السَّقَطِيْ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ" اے **الله** پاکه تۀ پۀ حُضُورِ اکرم صلَّی اللہ علیہ والہٖ وسلَّم باندې رحمت او برکت نازِل کړې او د حضور صلَّی اللہ علیہ والہٖ وسلَّم پۀ آل و اصحاب او زمونږ پۀ سردار شيخ سَري سَقَطِي رحمۃُاللہِ علیہ باندې هُم. (تاريخ و شرح شجرۀ قادريه بركاتيه رضويه، ص109)

## د ټولو نه لوئي عبادت ګزار

مُرشِدي حضرت سَري سَقَطِي رحمۃُاللہِ علیہ پۀ خپل دُکان کښې يوه پرده لګولې وه

چې شاته به يې ترينه تشريف وړلو او روزانه به يې يو زر [1000] نفل کول.
(تذكرةالاولياء، 246/1)

حضرت جنيد بغدادي رَحۡمَةُاللّٰہِعَلَیۡه فرمائي: ما د حضرت سَري سَقَطِي رَحۡمَةُاللّٰہِعَلَیۡه نه زيات عبادت ګزار څوک نه وو ليدلے. د هغوئي رَحۡمَةُاللّٰہِعَلَیۡه عمر مبارک 98 کاله وو خو د وفات شريف په وخت هغوئي چرې هم په آرام کولو نه دي ليدلے شوي. يو ځل د هغوئي د وظيفو يوه حصه د هغوئي نه پاتې شوه نو ارشاد يې اوفرمائيلو: زما د پاره د دې قضا کول ممکن نه دي. (يعنې د هغوئي ديني مصروفيات دومره وو چې د پاتې شوو وظيفو د لوستلو د پاره ورسره فارغ وخت نه وو). (سير اعلام النبلاء، 149/10)

## يوې جُملې يې ژوند بدل کړو

حضرت سَري سَقَطِي رَحۡمَةُاللّٰہِعَلَیۡه يوه ورځ د بغداد شريف په جامع مسجد کښې بيان فرمائيلو چې يو مالداره ځلمے په بهترينو جامو کښې د خپلو دوستانو سره راغے او بيان اوريدل يې شروع کړو. په بيان کښې حضرت سَري سَقَطِي رَحۡمَةُاللّٰہِعَلَیۡه اوفرمائيل: "**حيراني ده چې کمزورے څنګه د قوي [يعنې د طاقتور] نافرماني کوي؟**" دا يې چې واوريدل نو د هغهٔ ځلمي د مخ رنګ بدل شو او هغهٔ بيان واوريدو او لاړو. په بَله ورځ هغهٔ د حضرت سَري سَقَطِي رَحۡمَةُاللّٰہِعَلَیۡه په خدمت کښې حاضر شو او عرض يې وکړو: "پرون تاسو فرمائيلي وو چې حيراني ده چې کمزرے څنګه د طاقتور نافرماني کوي، لږ د دې په مطلب مې پوهه کړئ." هغوئي رَحۡمَةُ الله عَلَیۡه ارشاد اوفرمائيلو: "د مولیٰ [يعنې الله پاک] نه څوک زيات طاقتور نشته او د انسان نه څوک زيات کمزورے نشته، بيا هم بنده د هغهٔ نافرماني کوي." دا يې چې واوريدل نو هغهٔ ځلمے لاړو. په بَله ورځ هغه بيا د حضرت سَري سَقَطِي رَحۡمَةُاللّٰہِعَلَیۡه په خدمت کښې حاضر شو نو د هغهٔ په بدن باندې صرف دوه سپينې کپړې وې. هغهٔ عرض وکړو: ما ته رَبِّ کريم ته د رَسيدو طريقه وښايئ. هغوئي اوفرمائيل: "که عبادت

کول غواړې نو د ورځې روژه نيسه او د شپې پۀ نفلونو کښې مشغول اوسه.“ (روض الرياحين، ص 171 بتغير)

**اے د خوږ نبي** صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **عاشقانو!** د حضرت سَري سَقَطِي رَحْمَةُاللّٰهِ عَلَيْه نصيحت خومره د سبق نه ډک دے. چې کله نفس او شيطان د ګناه خيال پۀ ذهن کښې راولي نو کاش چې هغۀ وخت زمونږ پۀ ذهن کښې دا تصور راشي چې د چا نافرماني کووم هغۀ **اللّٰه** پاک خومره د قدر او لوئي طاقت والا دے که هغۀ پۀ ګناه کولو باندې سزا راکړه نو زما پۀ شان کمزورے انسان به يې څنګه برداشت کړے شي. **اللّٰه** پاک دې مونږ ته د خپلې خوښې د کارونو کولو توفيق راعطا کړي.

ګناه بےعدد اور جُرم بھی ہیں لاتعداد مُعاف کردے نہ سہ پاؤں گا سزا یارب

(وسائلِ بخشش، ص 78)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## چرې يې ښپې اونه غزولې

حضرت سَري سَقَطِي رَحْمَةُاللّٰهِ عَلَيْه پۀ جومات کښې ښپې غزولې وې او ناست وو. غيبي آواز راغے: آيا د بادشاهانو پۀ بارګاه کښې [انسان] داسې کښيني؟ هغۀ وخت يې چې ښپې راټولې کړې نو د غُسل پۀ تخته باندې يې وغزولې، پۀ اودو يې هم چرې اونه غزولې. (سبع سنابل، ص 131)

جن کے رتبے ہیں سوا ان کو سوا مشکل ہے

## علمي مقام او مرتبه

حضرت سَري سَقَطِي رَحْمَةُاللّٰهِ عَلَيْه پۀ عِلمِ حديث کښې د لويو او مشهورو محدثينِ کرامو نه روايتونه اوريدلي او حديثونه مبارک يې بيان کړي دي خو هغوئي (د احتياط پۀ وجه) ډير زيات حديثونه مبارک نۀ دي بيان کړي، پۀ دې

وجه د هغوئي روايتونه كم دي.(حلية الاولياء، 131/10)

## د كور نه نهٔ وَتَل

حضرت جنيد بغدادي رحمۃ اللہ علیہ فرمائي: ما د حضرت سَري سَقَطِي رحمۃ اللہ علیہ نه دا واوريدل چې كه چرې جُمعه او جَمعه واجب نه وه نو زه به چرې د خپل كور نه نهٔ وَتم او هم تر مرګه پورې به پهٔ كور كښې ناست ووم. (بحر الدموع، ص39)

**خوږو او محترمو اسلامي ورونو!** كه څهٔ ضرورت يا شرعي مجبوري نه وي نو د فضول ګرځيدو پهٔ ځائے پهٔ كور كښې ناست اوسيدو كښې فائدې دي. پهٔ حديثِ پاک كښې دي: صحابِي رسول، حضرت عُقبه بن عامِر رضی اللہ عنہ عرض وكړو: يا رسولَ الله صلی اللہ علیہ والہٖ وسلم! نجات څهٔ دے؟ اوئې فرمائيل: ﴿1﴾ چې خپله ژبه ايساره وساتې (يعنې خبرې هُغه ځائے كښې وكړې چرته چې فائده وي، نقصان نه وي) او ﴿2﴾ستا كور تا ته كفايت وكړي (يعنې بغير د ضرورت نه د كور نه مهٔ ووځه) او ﴿3﴾پهٔ ګناهونو باندې ژړل اختيار كړه. (ترمذی، 182/4، حديث: 2414)

## شپږ فضول كارونه

مُرشِدي حضرت سَري سَقَطِي رحمۃ اللہ علیہ توبه كوونكي ته فرمائي چې د نفس د هر قِسمه خواهش نه مخ واړوه او د فضولو كارونو نه بچ اوسه. د فضولو كارونو نه مُراد دا شپږ كارونه دي: ﴿1﴾ فضول خبرې كول ﴿2﴾ فضول كتل ﴿3﴾ فضول ګرځيدل ﴿4﴾ فضول خوړل ﴿5﴾ فضول خښل ﴿6﴾ فضول جامې اغوستل. (قوت القلوب، 367/1)

واقعي چې پهٔ وسنئ زمانه كښې هم پهٔ تنهايۍ كښې فائده ده خو چې هغهٔ تنهائي د ګناهونو نه محفوظه وي ځكه چې كه پهٔ تنهايۍ كښې هُم د موبائل يا انټرنيټ وغيره د استعمال په ذريعه په ګناهونو كښې مصروف شوې نو داسې تنهائي هم دوزخ ته رسوَل كوي. فضول ناسته پهٔ ګناهونو كښې اخته كول كوي،

هم داسې خپلې سترګې آزادې پرېښودل [يعني خپلې سترګې] د فضولياتو عادت کولو سره [بنده] په بد نظرئ کښې اخته کيدے شي. که د خلقو سره يـې او که يواځې، د **الله** پاک او د هغهٔ د خوږ خوږ آخري نبي صلی اللہ علیہ والہ وسلم په يادونو کښې مشغول اوسئ. ذکر او دُرود کوئ. د قرآنِ کريم د تلاوت سعادت حاصلوئ، مَدَني چينل ګورئ، علمِ دِين حاصلوئ. ستاسو وخت به په ډيرو نيکو کښې تيرېږي او په اعمال نامه کښې به مو ډير ثواب جمع کيږي. اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم!

اميرِ اهلِسُنَّت دامت برکاتہم العالیہ ليکي: داسې عالِم چې هغه ته د مسلمانانو حاجت وي او د هغه نه خلقو ته فائده رسي هغه دې خلقو سره ناسته ولاړه نه پرېږدي. باقي [عام] خلق دې د مور او پلار، بال بچو او د نورو حقوق العباد د خيال ساتلو سره سره د خپلو اهمو ديني ضرورتونو نه فارغيدلو نه پس باقي وخت په ګوشه نشينئ (يواځې اوسيدو) کښې تيروي (هله چې په تنهائي کښې د اوسيدلو د آدابو نه هُم خبر وي[1]) نو د هغوئي دپاره نُورٌ عَلٰى نُور دي. (غیبت کی تباہ کاریاں، 264)

دِل میں ہو یاد تِری گوشۂ تنہائی ہو
پھر تو خلوت میں عجب انجمن آرائی ہو

(**ذوقِ نعت**، ص 204)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! ❀❀❀ صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د شپې عبادت

حضرت جنيد بغدادي رحمۃ اللہ علیہ فرمائي: مونږ د حضرت سَري سَقَطِي رحمۃ اللہ علیہ نه ګير چاپيره ناست وو چې هغوئي مونږ ته (د عاجزئ په طور) اُوفرمائيل: اے ځلمو! زهٔ ستاسو د پاره عبرت يم، عمل کوئ ځکه چې اصلي عمل خو په ځوانئ کښې کيږي.

[1] ...په لُبابُ الْاِحياء صفحه 163 نه 165 کښې د ګوشه نشيئ بيان اولولئ۔ د دې تفصيلي بيان په **اِحياءُ العلوم** جلد 2 کښې دے۔

حضرت جنيد بغدادي رَحْمَةُاللّٰهِ عَلَيْه فرمائي: چې كله به د شپې تيارهٔ شوه نو مُرشِدي حضرت سَري سَقَطِي رَحْمَةُاللّٰهِ عَلَيْه به نمـونځ شروع كړو. د شپې پهٔ وړومبۍ حصه كښې به پهٔ هغوئي باندې د ژړا كيفيت راخوريدو نو هغهٔ به يـې لرې كولو بيا به پرې راتللو بيا به يـې لرې كولو بيا به پرې راتللو بيا به يـې لرې كولو تر دې چې كله به پهٔ هغوئي باندې د ژړا كيفيت غالب شو نو سلګۍ به يـې شروع كړې او پهٔ ژړا به شو. (حلية الاولياء، 131/10، رقم: 14761)

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! واقعي ده چې ځواني ډير د مستئ دَور وي پهٔ دې كښې د نفس د خواهشونو د غلبې له وجهې عبادت او رياضت ډير ګران ښكاري. نفس او شيطان پوره زور لګوي چې ځلمـے د نيكئ پهٔ لاره د تللو نه او پهٔ سنتو باندې د عمل كولو نه ايسار كړي، او پهٔ ګناهونو كښې د اخته كولو كوشش پرې كوي. **اللّٰه** كريم دې د خپلو نيكانو بندګانو او د اوليائے كرامو رَحْمَةُاللّٰهِ عَلَيْهِم پهٔ وسيله مونږ ته د خپل ژوند پهٔ هر دور (ځوانۍ، درميانه عمر او بوډا والي) كښې د خپلې رضا والا كارونو كښې د مصروفه كيدو توفيق راعطا كړي او د خپلو نافرمانو او بدو دوستانو نه مو دې وساتي.

حيا نہيں ہے زمانے کی آنکھ ميں باقی　　خدا کرے کہ جوانی تری رہے بے داغ

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! ❀❀❀ صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## مرغۍ رانزدې شوه

حضرت احمد بن خَلَف رَحْمَةُاللّٰهِ عَلَيْه فرمائي: يوه ورځ زه د حضرت سَري سَقَطِي رَحْمَةُاللّٰهِ عَلَيْه خوا له لاړم نو هغوئي ما ته اوفرمائيل: آيا زهٔ تا ته د هغې مرغۍ پهٔ باره كښې د حيرانتيا خبره اونكړم چې زما خوا له به راتله او د منډؤ [برنډې] پهٔ بلئ به كښيناستله. ما به د هغې د پاره د ډوډۍ وړه شان قطره راواخسته او هغهٔ به مې

پۀ خپلو لاسونو کښې چوري کړله نو هغۀ به راغله او زما د ګوتو پۀ غاړو باندې به کښيناسته او خوړله به يـې. يوه ورځ چې هغۀ منډۀ [برنډې] ته راغله نو ما د هغې د پاره د ډوډۍ قطره راواخسته او پۀ خپلو لاسونو کښې مې چوري کړه نو چې هغۀ به څنګه زما پۀ لاس کښې د خوړلو د پاره راتلله، رانغله. ما د دې راز پۀ باره کښې غور و فِکر شروع کړو چې هغۀ زما پۀ لور ولې نۀ راغبه کيږي نو ما ته پته ولګيده چې ما بښۀ قِسم مالګه خوړلې وه. نو ما پۀ زړۀ کښې ووئيل: زۀ د بښې مالګې خوړلو نه توبه کووم. څۀ ګورم چې هغۀ مرغۍ راغله او زما پۀ لاس باندې کښيناسته، چوري يـې وخوړله او والوتله لاړه. (حلیۃ الاولیاء، 127/10، رقم: 14741)

د الله والؤ هم څومره ښکلے شان دے. کاش چې د **الله** پاک د رضا د پاره مونږه هم خپل نفس قابو کړو او دا پۀ نيکو کارونو عادت کړو. اولیائے کرامو رحمۃُ اللہِ علیہم خو به د نفس پۀ هره خبره کښې مخالفت کولو لکه څنګه چې

## يخې اوبه څښل

د حضرت سَري سَقَطِي رحمۃُ اللہِ علیہ يوه ورځې روژه وه، پۀ تاخ (يعنې پۀ ديوال کښې پۀ جوړ کړے شوي يو دَري يا ځائے) کښې يـې د اوبو يخولو د پاره د څښلو اوبه پۀ لوښي کښې کيښودې وې، د مازديګر د نمــونځ نه پس پۀ مُراقبه کښې وو چې جنّتي حورو يـې پۀ مخه تيريدل شروع کړل. چې کومه يوه به مخې له راتلله نو پوښتنه به يـې ترينه کوله: تۀ د چا د پاره يـې؟ هغې به د **الله** پاک د يو بنده نوم اخستو. يوه راغله د هغې نه يـې هم دغه پوښتنه وکړه نو هغې ووئيل: "زه د هغۀ د پاره يم څوک چې پۀ روژه کښې اوبه د يخيدو د پاره نه ږدي." اوئې فرمائيل: " که تۀ رښتيا وائې نو دغه لوښے راوغورځوه،" [نو] هغې راوغورځولو. د هغې پۀ آواز سره يـې سترګې وغړيدلې. چې اوئې کتل نو د هغوئې د اوبو د څښلو هغۀ لوښے مات پروت وو.
(الرسالۃ القشیریۃ، ص 30، ملفوظاتِ اعلیٰ حضرت، ص 158، روض الریاحین، ص 53 ملخصاً)

## د ديرشو کالو نه د نفس مخالفت

حضرت سَري سَقَطِي رَحۡمَۃُاللہِ عَلَیۡه فرمائي: د ديرشو کالو نه زما نفس زما سره پهٔ دې خبره باندې په جګړه دے چې زهٔ د کجورو په شِيره (یعنې رَس) کښې يوه ګاځره اُووهم او هغه وخورم خو ما تر اوسه پورې د هغهٔ خبره نه ده منلې. (حلیۃالاولیاء،10/119،رقم:14693)

اے د اولیاؤ عاشقانو! معلومه شوه چې د الله پاک نيکان بندګان د آخرت د باقي پاتې کیدونکو راحتونو او نه ختمیدونکو نعمتونو موندلو پهٔ شوق کښې خپل نفس قابو کوي او د دُنیا خوندونه په ټوکر وهي.

سرورِ دِیں لیجے اپنے ناتوانوں کی خبر
نفس و شیطاں سیّدا کب تک دَباتے جائیں گے

(حدائقِ بخشش، ص 175)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د پاک خوراک خوړلو په لړ کښې شهرت

حضرت حسن بزّاز رَحۡمَۃُاللہِ عَلَیۡه فرمائي: حضرت سَري سَقَطِي رَحۡمَۃُاللہِ عَلَیۡه پهٔ حلال او پاک خوراک کولو کښې او د خپل خوراک پهٔ کره کتنه او د تقویٰ او پرهیزګارۍ پهٔ بابله دومره مشهور وو چې د هغوئي دا شهرت حضرت امام احمد بن حنبل رَحۡمَۃُاللہِ عَلَیۡه ته هُم رسیدلے وو، ځکه هغوئي د هغوئي پهٔ باره کښې فرمائیلي وو چې **"هُغه شیخ کوم چې د پاک خوراک پهٔ باره کښې مشهور دے."** (حلیۃالاولیاء، 10/130، رقم:14760)

## د تقویٰ بهترین مثال

زما مُرشد، حضرت سَري سَقَطِي رَحۡمَۃُاللہِ عَلَیۡه فرمائي: ما وغوښتل چې داسې نـمرۍ وخورم چې پهٔ هغې کښې د الله پاک د طرف نه پوښتنه نه وي او نهٔ پکښې د مخلوق د طرف نه پهٔ ما باندې څهٔ احسان وي نو ما ته د داسې نـمرۍ پهٔ باره کښې

هيڅ لا ر ميلاو نه شوه. (حلية الاولياء، 120/10، رقم: 14694)

مونږه يوه ورځ د مکے نه د څۀ ځائے د پاره ووتو، چې کله پۀ ځنګل کښې [د دَمې د پاره] ايسار شو نو ما پۀ روانو اوبو کښې د سبزۍ يوه غنچه وليدله. نو لاس مې ور وغزولو او هغۀ مې راواخسته او اومې وئيل: اَلْحَمْدُلِلّٰه! زما پۀ خيال دا حلاله وه او پۀ دې کښې د کوم مخلوق احسان هم نه وو. چې کله ما هغۀ راواخسته نو چا ليدونکي ما ته ووئيل: اے ابو الحسنَ! [چې] زۀ د هغۀ پۀ لور متوجه شوم نو د هغۀ سره هم د هغې پۀ شان د سبزۍ غنچه وه، هغۀ ما ته ووئيل: دغۀ راکړه او دا واخله. ما ووئيل: د سبزۍ دا غنچه کومه چې ما مخکښې راخستې وه پۀ هغې کښې د چا احسان نشته او چې کومه تۀ راکوې دا بدل دے، شايد چې تۀ پۀ ما باندې احسان کول غوارې او زۀ خو هغۀ څيز غواړم پۀ کوم کښې چې نۀ د مخلوق احسان وي او نۀ د **الله** پاک د طرف نه پوښتنه. (حلية الاولياء، 120/10، رقم: 14695)

کسی کا احسان کیوں اٹھائیں کسی کو حالات کیوں بتائیں
تمھیں سے مانگیں گے تم ہی دو گے تمہارے دَر سے ہی لَو لگی ہے

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## بزنس مين داسې وي

حضرت سَري سَقَطِي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د بادامو يو "کُرّ" (يعنې د غلې يوه پيمانه) پۀ 60 ديناره واخسته او د خپل روزانه د حساب ليکلو پۀ کاپۍ کښې يې د هغې ګټه درې ديناره وليکله، لکه چې هغوئي پۀ هر لس ديناره باندې صرف نيم دينار ګټه اخستل بهتره وګڼله. پۀ يو څو ورځو کښې د بادامو يو "کُر" پۀ 90 ديناره شو. يوه ورځ کميشن ايجنټ (Commission Agent) راغے او هغۀ بادام وغوښتل، هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ووفرمائيل: واخله!- هغۀ پوښتنه وکړه: پۀ څو؟ اوئې فرمائيل: پۀ 63 ديناره.

هغهٔ هم پهٔ نیکانو خلقو کښې وو، هغهٔ عرض وکړو: دا وخت دا بادام پهٔ 90 دیناره شوي دي. هغوئي رَحْمَۃُاللہِ عَلَیْہ ووفرمائیل: ما یوه وعده کړې ده چې هغه زه هیڅکله هم نشم ماتولے، ځکه به یـې زهٔ هم پهٔ 63 دیناره خرڅووم. کمیشن ایجنټ جواب ورکړو: ما هم د ځان او د **اللّٰه** پاک ترمینځه د دې خبرې وعده کړې ده چې یو مسلمان له به هُم دهوکه نه ورکووم. ځکه به زهٔ ستاسو نه دا بادام هم پهٔ 90 دیناره اخلم. هغوئي رَحْمَۃُاللہِ عَلَیْہ هم پهٔ خپله خبره باندې قائِم وو او فرمائیل یـې: زهٔ به یـې د 63 دیناره نه پهٔ زیات نرخ نهٔ خرڅووم. نو نهٔ هغهٔ ایجنټ دا خبره خوښه کړه چې پهٔ کم قیمت یـې واخلي او نهٔ هغوئي د درې دیناره نه پهٔ زیاته ګټه اخستو باندې راضي شول آخر د هغوئي سودا اونشوه او هغهٔ د هُغه ځائے نه لاړلو.

د دې واقعې بیانولو نه پس حضرت علان الخیاط رَحْمَۃُاللہِ عَلَیْہ فرمائي: پهٔ چا کښې چې داسې عظیم عادتونه وي نو چې کله هغهٔ د خپل پاک پروردګار پهٔ بارګاه کښې د دعا د پاره لاسونه پورته کړي نو د هغوئي دعاګانې به ولې نه قبلیږي. څوک چې د **اللّٰه** پاک شي **اللّٰه** پاک د هغهٔ ټولې معاملې حل کړي. (احیاء العلوم، 102/2. عیون الحکایات، ص164 ملخصاً) د **اللّٰه** رَبُّ الْعِزَّت دې پهٔ هغوئي ټولو باندې رَحمت وي او د هغوئي پهٔ وسیله دې زمونږه بے حسابه بخښنه وشي. اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

د مرشدي حضرت سَري سَقَطِي رَحْمَۃُاللہِ عَلَیْہ د مسلمانانو د خیر ښیګړې جذبې ته پهٔ لکونو سلامونه، هُغه زمانه څومره ښکلې وه او د هُغه وخت خلق څومره ایماندار وو خو اوس د نفسا نفسي دور دے. ډیره د افسوس خبره ده چې نن د خپلو مسلمانانو وروڼو د همدردۍ او خیر خواهۍ جذبه هډو شته نهٔ. د ژوند د ضرورت، د خوراک اهم څیزونه غوړي، تیل، وره، چیني او دالونه وغیره چې ګران شي نو لکه د دکاندار چې اختر شي، پهٔ مخکښیني نرخ د خرڅولو خو هډو سوال نه پیدا کیږي بلکې هغهٔ پهٔ اوسني زیات نرخ کښې لس روپۍ کمې اخستل هم نه خوښوي. د

بعضې خلقو بے حسي تر دې حده پورې وي چې د نرخ زياتيدو پته ورته اولګي چې په فلانکۍ ورځ يا فلانکي تاريخ به دومره ګرانيږي نو هغهٔ څيزونه نه خرڅوي چې د نرخ زياتيدو نه پس به يـې په ګټه باندې خرڅ کړي. آه! يو هغهٔ نيکان او د غريبانانو همدرد او خير خواه خلق وو او يو اوسني حالات دي.

اے خاصہِ خاصانِ رُسُل وقتِ دُعا ہے  اُمّت پہ تِری آکے عَجَب وَقْت پڑا ہے

کاش چې **الله** پاک زما د مرشد حضرت سَري سَقَطِي رحمۃ اللہ علیہ په وسيله زمونږه د خپلو مسلمانانو ورونړو سره د خير خواهۍ او همدردۍ جذبه نصيب شي. په هغوئې کښې د مسلمانانو سره د خير خواهۍ جذبه څومره وه. هغوئي رحمۃ اللہ علیہ فرمائي: زهٔ غوارم چې د ټول مخلوق غم زما په زړهٔ باندې راشي چې هغوئي ټول د غمونو نه خلاص شي. (شريف التواريخ، 501/1)

## په مخلوق باندې د ټولو نه زيات مهربانه

يو بزرګ رحمۃ اللہ علیہ فرمائي چې ما ډير مشائخ وليدل خو څوک مې هم د حضرت شيخ سَري سَقَطِي رحمۃ اللہ علیہ برابر د **الله** پاک په مخلوق باندې شفيق [يعني مهربانه] اونه ليدل. (شريف التواريخ، 513/1 ) د حضرت سَري سَقَطِي رحمۃ اللہ علیہ د مسلمانانو د خير خواهۍ د جذبې په باره کښې يوه بَله واقعه اولولئ او په ځان کښې هم د دې جذبې د پيدا کولو کوشش وکړئ.

## د ټول دُکان مال يـې خيرات کړو

حضرت سَري سَقَطِي رحمۃ اللہ علیہ فرمائي: زهٔ د ديرشو کالو نه په يو ځل اَلْحَمْدُلِلّٰه وئيلو باندې استغفار کووم، عرض وکړے شو: هغهٔ څنګه؟ اوئې فرمائيل: يو ځل د بغداد شريف په بازار کښې وور ولګيدو چې پکښې ټول دکانونه وسوزيدل، د حضرت سَري سَقَطِي رحمۃ اللہ علیہ دکان هم په هغهٔ دکانونو کښې وو، څوک راغـے او

زۀ يـې خبر کړم چې ستاسو دکان نه دے سوزيدلے، ما ووئيل: "اَلْحَمْدُلِلّٰه". نو زۀ د ديرشو کالو نه پۀ دې خبره باندې پښيمانه يم چې ما د خپلې فائدې په مقابله کښې د مسلمانانو نقصان ښه وګڼو. (فوراً هغوئي ته احساس وشو چې لکه د نورو د سامان پۀ سوزيدو يـې افسوس ونـکړو او د خپل دکان پۀ نۀ سوزيدو خوشحاله شو دا خوشحالي څنګه، د دې پۀ کفّاره کښې) هغوئي د خپل دُکان ټول څيزونه پۀ غريبانانو باندې تقسيم کړل. (الرسالة القشيريه، ص29)

## د بزرګانو موجودګي د برکت سبب وي

حضرت حسن بزّاز رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه فرمائي: حضرت امام احمد بن حنبل رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه او حضرت بشر حافي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه دلته (پۀ بغداد کښې) وو نو مونږ به دا اميد لرلو چې **الله** پاک به د دې بزرګانو پۀ ذريعه زمونږه حفاظت فرمائي بيا دا دواړه وفات شول او حضرت سَري سَقَطِي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه موجود وو نو زۀ دا اميد لرم چې **الله** پاک به د حضرت سَري سَقَطِي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه پۀ ذريعه زمونږه حفاظت فرمائي. (حلية الاولياء، 130/10، رقم:14759)

اعلیٰ حضرت امام اهلسُنَّت احمد رضا خان رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه د مُرشدي سَري سَقَطِي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه پۀ بارګاه کښې عرض کوي:

يا سَرِی اَمن از سَقط در دو سرا امداد کن

يعنې اے زما مُرشده! حضرت سَري سَقَطِي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه تاسو ما د بَل چا پۀ دَر باندې د غورځيدو نه بچ کړئ، زما مدد وکړئ. (حدائقِ بخشش، ص329)

## د "يا سَري سَقَطِي" د 9 حرفونو پۀ نسبت سره

## د حضرت سَري سَقَطِي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه 9 واقعې

### ﴿1﴾: يا الله پاکه دوئي ته د تپوس کولو طريقه وښائې

حضرت سَري سَقَطِي رحمۃُاللہِ علیہ فرمائي: زۀ پۀ طرسوس کښې بيمار شوم. څۀ داسې خلق چې د هغوئي راتلل زما خوښ نه وو زما د تپوس د پاره راغلل او دومره وخت کښيناستل چې زۀ تنګ شوم. چې کله هغوئي واپس تلل نو ما ته يــې د دُعا کولو د پاره ووئيل نو ما لاسونه پورته کړل او دُعا مې وکړه: اَللّٰهُمَّ عَلِّمْنَا كَيْفَ نَعُوْدُ الْمَرْضٰى يعنې اے **الله** پاکه مونږ ته د تپوس کولو طريقه وښائې چې د مريض تپوس څنګه کيږي. (نفحات الانس، ص 54) د **الله** رَبُّ الۡعِزَّت دې پۀ هغوئي باندې رَحمت وي او د هغوئي پۀ وسيله دې زمونږه بے حسابه بخښنه اوشي.

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صلَّی اللهُ علیهِ واٰلهٖ وسلَّم

د حضورِ اکرم صلَّی اللهُ علیهِ واٰلهٖ وسلَّم د صحابۀ کرامو علیهم الرّضوان د تپوس کولو د واقعاتو او د تپوس کولو د صحيح طريقې نه د ځان خبرولو د پاره د دعوتِ اِسلامي د ويب سائټ www.dawateislami.net نه رساله "عيادت کے واقعات" ولولئ بلکې که کيدے شي نو پۀ هسپتال او کلينک وغيره کښې يــې د خپلو مرحومانو د ايصالِ ثواب د پاره تقسيم کړئ.

## ﴿2﴾: دُنيا د اولياء الله خادمه ده

د حضرت سَري سَقَطِي رحمۃُاللہِ علیہ خور يو ځل د هغوئي کره راغله نو اوئې کتل چې يوه بوډۍ د هغوئي پۀ کور کښې جارو وهي او هغۀ روزانه د هغوئي د پاره دوه ډوډۍ هُم راوړي. د هغوئي خور حضرت امام احمد بن حنبل رحمۃُاللہِ علیہ ته دا ووئيل نو حضرت امام احمد بن حنبل رحمۃُاللہِ علیہ هغوئي نه پۀ دې باره کښې تپوس وکړو نو هغوئي جواب ورکړو چې **الله** پاک دُنيا زما پابنده کړې ده د پاره د دې چې هغۀ پۀ ما باندې خرچ هم وکړي او زما خدمت هم اوکړي. (جامع کراماتِ اولیا، 2/88 ملخصاً)

د **الله** رَبُّ الۡعِزَّت دې پۀ هغوئي باندې رَحمت وي او د هغوئي پۀ وسيله دې زمونږه

بے حسابه بخښنه اوشي. اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم

اُنہیں کیا خوف ہو عقبیٰ کا اور کیا فکر دُنیا کی
جمائے بیٹھے ہیں جو دل پہ نقشہ تیری صورت کا
(قبالۂ بخشش، ص40)

## ﴿3﴾: د الله پاک په نزد کامياب

حضرت جنيد بغدادي رحمۃُاللہِ علیہ ووفرمائيل: زما سره څلور درهمې وې. زۀ د مُرشِدي حضرت سَري سَقَطِي رحمۃُاللہِ علیہ په خدمت کښې حاضر شوم او عرض مې وکړو: دا څلور درهمې زۀ ستاسو په خدمت کښې د پيش کولو د پاره راغلے يم. هغوئي ووفرمائيل: څويه! خوشحاله اوسې. تۀ کامياب يې. زما څلورو درهمو ته ضرورت دے. ما د **الله** پاک په بارګاه کښې دُعا کړې وه چې اے **الله** پاکه! څلور درهمې د داسې ګس په لاس راوليږې څوک چې ستا په نزد کامياب وي. (جامع کراماتِ اوليا، 2/89)

د **الله** رَبُّ الْعِزَّت دې په هغوئي باندې رَحمت وي او د هغوئي په وسيله دې زمونږه بے حسابه بخښنه اوشي. اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم

## ﴿4﴾: د خپلې مُحاسبې کولو ځانګړے انداز

حضرت سَري سَقَطِي رحمۃُاللہِ علیہ (د عاجزۍ په طور) فرمائي: زما نه پوره ديرش کاله يوه بيماري پټه پاتې وه. مونږ بعضې خلق به سحر وختې د جُمعې [د نمونځ] د پاره تللو، د هر چا خپل خپل مخصوص ځائے وو چې په خلقو کښې مشهور وو مونږ به د هغۀ ځائے نه بَل ځائے ته نه تللو. د جُمعې په ورځ زمونږه په ګاؤنډ کښې يو ګس وفات شو، ما وغوښتل چې د هغۀ په جنازه کښې شرکت وکړم. نو ما د هغۀ په جنازه کښې شرکت وکړو په دې وجه په ما باندې د جُمعې د پاره د خپل وخت نه لږ ناوخته شو. بهر حال زۀ د جُمعې د پاره لاړم او چې کله جومات ته نزدې شوم زما نفس ما

ته ووئيل: اوس به خلق تا ته ګوري چې نن د خپل وخت نه ناوخته راغلے دے. ما ته ډيره ګرانه محسوس شوه نو ما خپل ځان ته ووئيل: تهٔ د ديرشو کالو نه رياکار يې او تا ته پته هم نشته، نو ما خپل مخصوص ځائے پريښودو [2] او پهٔ مختلفو ځايونو کښې مې نمونځ شروع کړو د پاره د دې چې زما هيڅ ځائے مشهور نه شي. (حلية الاولياء، 129/10، رقم: 14753)

د **الله** رَبُّ الْعِزَّت دې پهٔ هغوئي باندې رَحمت وي او د هغوئي پهٔ وسيله دې زمونږه بے حسابه بخښنه اوشي. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## ﴿5﴾: د دعا په بَرَکت سره 40 حجونه

حضرت علي بن عبدُ الحميد غَضَائري رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه فرمائي: يوه ورځ زهٔ د حضرت سَري سَقَطِي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه کور ته حاضر شوم او دروازه مې وډَبَوَله، هغوئي چې د دروازې خوا له تشريف راوړلو نو ما واوريدل چې هغوئي دُعا کوله: اے **الله** پاکه! چا چې زهٔ ستا نه غافل کړم تهٔ هغهٔ پهٔ خپل ياد کښې مشغول کړې. هغوئي وائي: د دې دُعا يو برکت دا ظاهر شو چې ما د حلب ښار (شام مُلک) نه پيدل څلويښت حجونه وَکړل. (الانساب للسمعانى، 155/9)

د **الله** رَبُّ الْعِزَّت دې پهٔ هغوئي باندې رَحمت وي او د هغوئي پهٔ وسيله دې زمونږه بے حسابه بخښنه اوشي. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## ﴿6﴾: د عبادت توفيق يې نصيب شو

حضرت ابو اسحاق رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه فرمائي: زهٔ د عبدُ الحميد غَضَائري رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه پهٔ خدمت کښې حاضر شوم نو هغوئي مې د ټولو نه زيات عبادت ګزار او پهٔ کثرت

---

2 ... [د فِقهٔ حَنَفِي مطابق] پهٔ جومات کښې يو ځائے د ځان د پاره خاص کول، چې هلته نمونځ کوې مکروه دے. (فتاوىٰ هنديه، 108/1)

سره مجاهده کوونکے وليدو. هغوئي به شپۀ ورځ نمـونځ ادا کولو لهٰذا ما د هغوئي د نمـونځ نه د فارغيدو انتظار شروع کړو خو زما د هغوئي سره ملاقات اونشو نو ما هغوئي ته ووئيل چې ما خپل مور پلار، ښځه بچي او خپل ښار پريښودے دے او ستاسو خوا له راغلے يم لهٰذا تاسو د لږ وخت د پاره د نمـونځ نه فارغ شئ او ما ته د **اللّٰه** پاک عطا کړے شوے عِلم وښايئ نو هغوئي رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡه ووفرمائيل: ما ته د حضرت سَري سَقَطِي رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡه دُعا ده، زۀ د هغوئي پۀ خدمت کښې حاضر شوم او دروازه مې وَډبوله نو د دروازې برسيره کيدو نه مخکښې ما د هغوئي نه دا دُعا واوريدله چې يا **اللّٰه** پاکه! څوک چې ستاسو پۀ بارګاه کښې د دُعا کولو نه د غافل کولو د پاره زما خوا له راغلے دے، تۀ هغۀ پۀ خپل محبت کښې مشغول کړې او زما نه يـې غافله کړې. نو چې کله زۀ د حضرت سَري سَقَطِي رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡه د بارګاه نه واپس راغلم نو پۀ نمـونځ او د **اللّٰه** پاک پۀ ذِکر کښې مشغول اوسيدل زما خوښ کار جوړ شو ځکه زۀ د هُغه نيک بزرګ د دُعا پۀ برکت د دې کارونو نه علاوه د هيڅ څيز د پاره نۀ فارغيږم.

حضرت ابو اِسحاق رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡه فرمائي: ما د هغوئي پۀ خبرو غور وَکړو نو ما ته د هغوئي خبرې د غمژن زړۀ او د عاجزه کوونکې بے قرارئ نه راوتونکې ښکاره شوې او هغوئي مسلسل اوښکې توئيولې. (بحر الدموع، ص115) د **اللّٰه** رَبُّ الۡعِزَّت دې پۀ هغوئي باندې رَحمت وي او د هغوئي پۀ وسيله دې زمونږه بے حسابه بخښنه اوشي.

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## ﴿7﴾: حقيقي بنده او رښتونے محبوب

حضرت جنيد بغدادي رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡه فرمائي: زۀ د حضرت سَري سَقَطِي رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡه پۀ خوا کښې اوده ووم چې هغوئي رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡه زۀ راپاڅولم او اوئې فرمائيل: اے

جنيده! ما اوليدل چې ګويا زۀ د **الله** پاک پۀ بارګاه کښې ولاړ يم او ما ته ارشاد ووفرمائيلے شو چې "اے سَري! ما مخلوق پيدا کړو نو ټولو زما د محبت دعویٰ کوله. بيا ما دُنيا پيدا کړه نو 90 فيصده وتښتيدل (يعنې د دُنيا پۀ لور لاړل) او لس فيصده باقي پاتې شول. بيا ما جنّت پيدا کړو نو پۀ باقي پاتو کښې هم 90 فيصده وتښتيدل (يعنې پۀ جنّت حاصلولو کښې اخته شول) او صرف لس فيصده پاتې شول بيا چې کله ما پۀ هغوئي باندې لږ شان ازميښت راوستو نو د هغۀ باقي پاتې کيدونکې شميرې هم صرف لس فيصده پاتې شول او نور وتښتيدل (يعنې زما پۀ رضا باندې راضي پاتې نه شول). ما د باقي پاتې کيدونکو نه پوښتنه وکړه: "نۀ خو تاسو دُنيا وغوښته، نۀ مو جنّت طلب کړو، نۀ د ازميښت نه وتښتيدئ. آخر! تاسو څۀ غواړئ؟ او ستاسو مقصود څۀ دے؟" نو هغوئي عرض وکړو: "زمونږه مقصود خو صرف هم تۀ يې، که تۀ زمونږه امتحان واخلې نو بيا به هم مونږه ستا محبت نۀ پريږدو." ما هغوئي ته ووئيل: "زۀ به تاسو پۀ داسې مصيبتونو او ازميښتونو کښې اخته کړم چې پۀ غرونو کښې هم د هغې د برداشت طاقت نشته، نو آيا تاسو به پۀ هغې باندې صبر وکړئ؟" هغوئي عرض وکړو: "ولې نۀ، اے مولیٰ! که تۀ پۀ ازميښت کښې اخته کوونکے يې نو چې څنګه غواړې پۀ مونږ ازميښت وکړه." (بيا يې ووفرمائيل:) اے سَري! هم دغه زما حقيقي بندګان او رښتوني محبوبان دي.

(الروض الفائق، ص256 . شعب الايمان ، 374/1، حديث: 436 ملخصاً)

د **الله** رَبُّ الْعِزَّت دې پۀ هغوئي باندې رَحمت وي او د هغوئي پۀ وسيله دې زمونږه بے حسابه بخښنه اوشي. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

خوشيوں ميں مَسَّرت ميں آسائش وراحت ميں ۔۔۔ اَسرارِ محبّت کا اظهار نهيں هوتا
وه عشقِ حقيقی کی لَذّت نهيں پاسکتا ۔۔۔ جو رنج و مصيبت سے دو چار نهيں هوتا

(وسائلِ بخشش، ص164)

## ﴿8﴾: د مُرشِدي پهٔ احتياط دې لکونه سلامونه وي

حضرت علي بن حُسَين بن حَرب رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي چې حضرت سَري سَقَطِي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ئوخيدلو، زما والدِ محترم ما له دوائي راکړه او زهٔ يــې د هغوئي خوا له وليږلم، هغوئي ووفرمائيل: د دې قيمت څهٔ دے؟ ما ووئيل: والد صاحب ما ته هيڅ نه دي وئيلي. اوئې فرمائيل: هغوئي ته زما سلام وايئ او ورته ووايئ چې د 50 کالو نه مونږه خلقو ته ښايو چې د خپل دين په بدله کښې هيڅ هُم مهٔ خورئ نو آيا نن به يــې مونږه د خپل دِين په بدله کښې وخورو؟ (حلية الاولياء، 120/10، رقم: 14700) حضرت سَري سَقَطِي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: دا رزالت دے چې انسان د خپل دِين خرخولو پهٔ بدل کښې څهٔ وخوري. (حلية الاولياء، 120/10، رقم: 14699)

د الله رَبُّ الْعِزَّت دې پهٔ هغوئي باندې رَحمت وي او د هغوئي پهٔ وسيله دې زمونږه بے حسابه بخښنه اوشي. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## ﴿9﴾: شکايت څنګه وکړم؟

حضرت جنيد بغدادي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: چې کله حضرت سَري سَقَطِي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه بيمار شو او زهٔ د هغوئي د تپوس د پاره حاضر شوم نو ما عرض وکړو تاسو څنګه محسوسوئ؟ اوئې فرمائيل: زهٔ د خپل تکليف شکايت خپل طبيب ته څنګه وکړم څکه چې پهٔ ما کوم تکليف راغلے دے هغه هم زما د طبيب د طرف نه دے (يعني هم د الله پاک د طرف نه دا ازميښت راغلے دے)، بيا ما ببوزے راواخستو چې هغوئي ته يــې ووهم نو هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ووفرمائيل: د چا خيټه چې د دننه نه سوزي هغه د ببوزي په هوا (سره سُکون) څنګه مونده شي. بيا هغوئي په عربي کښې څهٔ شعرونه ووئيل چې پکښې دا هم دي: يا الله پاکه! که پهٔ څهٔ څيز کښې زما د پاره څهٔ راحت وي نو چې تر څو پورې زما ژوند لږ شان هم پاتې وي په ما باندې د

هغې په ذريعه احسان ووفرمائي: (حلية الاولياء 291/10، رقم: 15270) د **اللّٰه** رَبُّ الْعِزَّت دې پهٔ هغوئي باندې رَحمت وي او د هغوئي پهٔ وسيله دې زمونږه بے حسابه بخښنه اوشي.

اٰمِين بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## مُريد او جانشين ته نصيحت

حضرت جنيد بغدادي رَحْمَةُاللّٰہِعَلَیْہ فرمائي: زما پير او مرشد، حضرت سَري سَقَطِي رَحْمَةُاللّٰہِعَلَیْہ ما ته دُعا وکړه: **اللّٰه** پاک دې تا حديثِ دان جوړ کړي او بيا دې تا صوفي جوړ کړي او د حديث دان نه مخکښې دې تا صوفي نهٔ جوړوي.

امام محمد بن غزالي رَحْمَةُاللّٰہِعَلَیْہ د حضرت سَري سَقَطِي رَحْمَةُاللّٰہِعَلَیْہ د دې دُعا په شرح کښې فرمائي: چا چې ورومبے حديث او علم حاصل کړو او په تصوّف کښې يې قدم کيښودو هغه کامياب شو او چا چې د عِلمِ دِين حاصلولو نه مخکښې صوفي جوړيدل خوښ کړل هغه خپل ځان په هلاکت کښې واچولو والْعِيَاذُ بِاللّٰهِ تَعَالٰی.

(شريعت و طريقت، ص 20)

## د عاجزۍ او انکسارۍ انتها

حضرت سَري سَقَطِي رَحْمَةُاللّٰہِعَلَیْہ په عاجزۍ کښې فرمائي: زهٔ روزانه خپلې پوزې ته څو کرته ګورم چې چرې د ګناهونو له وجهې زما مخ خو تور شوے نهٔ دے. حضرت جنيد بغدادي رَحْمَةُاللّٰہِعَلَیْہ بيانوي چې ما د حضرت سَرطي سَقَطِي رَحْمَةُاللّٰہِعَلَیْہ نه دا واوريدل: زهٔ پهٔ هيچا باندې خپل ځان له فضليت نه ورکووم.

(حلية الاولياء 119/10، رقم: 14691)

هغوئي فرمائي: زما خواهش دے چې زهٔ د بغداد نه علاوه په بَل يو ځائے کښې وفات شم ځکه چې زهٔ ويريږم چې که زما قبر زهٔ قبول نه کړم نو چرته

د خلقو په مخکښې زۀ رسوا نه شم. (الرسالة القشيرية، ص29)

اَللّٰهُ اَکْبَر! د الله والؤ عاجزي مرحبا صد مرحبا! لکه څنګه چې پۀ حديثِ پاک کښې دي: مَنْ تَوَاضَعَ لِلّٰهِ رَفَعَهُ الله يعنې چې څوک هم د **الله** رَبُّ الْعِزَّت د پاره عاجزي کوي **الله** پاک هغۀ ته اوچت والے عطا کوي.

(شعب الايمان، 276/6، حديث: 8140. مسلم، ص 1071، حديث: 6592 معناً)

د بزرګانِ دِين رَحْمَةُاللهِ عَلَيْهِم د عاجزئ اثر دے چې نن د صدو تيريدو نه پس هم د هغوئي اوچت والے او رِفعت مشهور دے، د هغوئي شانونه بيانولے کيږي او د هغوئي د ايصالِ ثواب د پاره محفلونه راجوړيږي. کومه وَنه چې ميوه نيسي هغه ښکته وي خو د تکبر کوونکي، غرور کوونکي مثال د ازغني وَنې په شان دے چې نۀ ښکته کيږي او نۀ ترينه فائده حاصليږي، لهٰذا ښکته شئ، عزّت به مو زيات شي او ميوه دار به جوړ شئ.

فخر و غُرور سے تُو مولیٰ مجھے بچانا
يارب! مجھے بنا دے پیکر تُو عاجزی کا

(وسائلِ بخشش، ص178)

## په توبه باندې د اِستقامت موندلو نُسخه

مُرشِدي حضرت سَري سَقَطِي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه فرمائي: توبه کوونکي ته د ټولو نه وړومبے د ګنهګارانو (يعنې د بدو خلقو د صحبت) نه لرې کيدل پکار دي او هغۀ دې په ګناه مجبوره کوونکے هر کار پريږدي او د نفس پۀ خواهش باندې د عمل کولو په ځائے دې د اوليائے کرامو رَحْمَةُاللهِ عَلَيْهِم په سيرت باندې عمل کول د ځان نه هُم زيات خوښ جوړ کړي.

(قوت القلوب، 367/1 ملتقطاً)

## د رښتوني توبې پيژندګلو

حضرت سَري سَقَطِي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه فرمائي: توبة النصوح (يعنې رښتوني توبه)

خپل ځان او خپلو مسلمانانو وروڼو ته د نصیحت کولو نه بغیر صحیح نه وي ځکه چې د چا توبهٔ صحیح وي هغهٔ خوښوي چې نور خلق هم د هغه په شان (یعنې د ګناه نه توبه کوونکي) شي. (تفسیر ثعلبی، پ28، التحریم، تحت الآیة: 8، 350/9)

## د مرغو قیدي

حضرت سَري سَقَطِي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه فرمائي: که چرې یو ګس باغ ته لاړ شي چرته چې هر قِسمه وَنې وي، په هغې باندې هر قِسمه مرغۍ [ناسې] وي او هره مرغۍ په بیله بیله ژبه کښې د هغهٔ ګس سره خبرې کوي او وائي: ''اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ يَاوَلِيَّ الله یعنې: اے د الله ولي! پهٔ تا دې سلامتي وي.'' د دې په اوریدو که د هغهٔ نفس راحت محسوس کړي نو هغهٔ د هغه مرغو قیدي دے. (احیاء العلوم، 170/1)

## آخري وخت

حضرت جنید بغدادي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه فرمائي: ما به د سُنَّت مطابق هرې درې ورځې پس د حضرت سَري سَقَطِي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه [د بیمارئ په دوران کښې] تپوس کولو. یوه ورځ زهٔ د هغوئي خوا له لاړم نو د هغوئي آخري وخت وو. زهٔ د هغوئي سر ته کښیناستم او په ژړا شوم، زما اوښکې د هغوئي په مخ پریوتې نو هغوئي سترګې وغړولې او ما ته یې وکتل. ما عرض وکړو: ما ته څه نصیحت وکړئ. اوئې فرمائیل: د بدو خلقو په صحبت کښې مهٔ کښینه او د نیکانو خلقو د صحبت له وجهې هم د **الله** پاک نه مهٔ غافله کیږه بیا هغوئي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه د **الله** پاک په ذِکر کولو کښې د دنیا نه رخصت شولو. (حلیة الاولیاء 129/10، رقم: 14750)

په شپږم رَمَضَانُ الْمُبَارَک 253 هجرۍ د سحر د نـمانځه نه پس هغوئي وفات شولو او د هغوئي مزار شریف په بغداد کښې د شُونِیزِیَّه په هدیره کښې دے. (تاریخ بغداد، 190/9)

## په حاشيه کښې يـې نوم ليکلے وو

د مُرشِدي حضرت سَري سَقَطِي رَحمَةُاللهِعَلَيه په جنازه کښې شرکت کوونکي يو کَس د شپې هغوئي په خوب کښې وليدو او پوښتنه يـې ترينه وکړه: ''مَافَعَلَ اللهُ بِكَ يعني **الله** پاک ستاسو سره څۀ معامله وکړه؟'' اوئې فرمائيل: ''**الله** پاک زۀ او زما په جنازه کښې شرکت کوونکي وبخښل.'' هغۀ کَس عرض وکړو: ''حُضُور! ما هم ستاسو په جنازه کښې شرکت کړے وو.'' نو هغوئي يو کاغذ راويستو او هغه ته يـې وښودو نو پۀ هغې کښې د هغۀ نوم نه وو. هغۀ عرض وکړو: حضور بے شکه زۀ حاضر شوے ووم. نو هغوئي بيا وکتو نو څۀ ګوري چې د هغۀ نوم په حاشيه کښې ليکلے شوے وو. (تاريخ ابن عساكر، 198/20، رقم: 2406)

## ديدارِ الٰهى

حضرت يعقوب بن عبدُ الله رَحمَةُاللهِعَلَيه فرمائي: ما په خوب کښې حضرت سَري سَقَطِي رَحمَةُاللهِعَلَيه اوليدو او پوښتنه مې ترينه وکړه: **الله** پاک ستاسو سره څۀ معامله وکړه؟ اوئې فرمائيل: هغۀ ما ته د خپل ديدار اجازت راعطا کړو. (حلية الاولياء، 201/9، رقم: 13694)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

اللّٰه

## د امیرِ اهلِ سُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِيَه زړه خوشحاله کړئ

د تیرو کلونو په شان ذِمّه داران د رمضانُ المُبارک د پوره میاشتې د اعتکاف د پاره راضي کړئ او ما ته زیري واورئ.




978-969-722-616-0
01082469

فیضانِ مدینہ محلہ سوداگران، پرانی سبزی منڈی کراچی
UAN +92 21 111 25 26 92 0313-1139278
www.maktabatulmadinah.com / www.dawateislami.net
feedback@maktabatulmadinah.com / ilmia@dawateislami.net